# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

پنځلسم کال، ۱۷۴ ګڼه د ۱۴۰۰ کال د مرغومي میاشت

## د افغانستان بانک سرپرست رئیس
## د چین له سفیر سره ولیدل



## تدویر جلسه بمنظور دسترسی
## بیشتر مردم به خدمات مالی



## د لویو اقتصادي پروژو پلي کېدل؛
## اقتصادي وده رامنځته کوي





# افغانۍ زمونږ د وياړ،
# اقتدار او ملي هويت نښه ده!



## د ګڼې لړلیک / مطالب مجله


د افغانستان بانک سرپرست رئیس د چین له سفیر سره ولیدل

تدویر جلسه با نمایندگان بانکهای تجارتی

تدویر جلسه بمنظور دسترسی بیشتر مردم به خدمات مالی

د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) د مدیره پلاوي د دوه نوي...

د انفلاسیون ډولونه او د هغه کنترول

چگونگی گردش پول در بازار

د لویو اقتصادي پروژو پلي کېدل اقتصادي وده رامنځته کوي

نقش مالیات در اقتصاد کشور

اعتباري کارت (کریډیټ کارت) او د هغه کارونه

تحکیم امنیت و جلوگیری از فساد باعث افزایش درآمد گمرکی می شود

تأثیر قیمت و کیفیت بر فروش کالا

اقتصادي خبرونه

۲۰۲۲ زیږدیز کال او د نړۍ لوړ ارزښت لرونکي پولي واحدونه

استحکام مالی چیست و چگونه به وجود می آید؟

د سوداګریزو چارو لپاره د مالي سواد اړتیا

توجه به زراعت و زمینه سازی برای افزایش صادرات محصولات زراعتی، به...



بانک

د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریال: عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

بریښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی د مجلې د مقالو او عکسونو څخه ګټه اخیستنه د ماخذ په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube  twitter.com/AFGCentralbank  www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک سرپرست رئیس د چین له سفیر سره ولیدل



۱۴۰۰ د مرغومي دوهمه – د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي حاجي ادریس په کابل کې د چین هیواد له سفیر ښاغلي وانګ یو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې د افغانستان او چین هیواد د بانکي اړیکو، سوداګرۍ او یو شمېر اړوندو موضوعګانو هر اړخیزې خبرې وشوې او د نظرونو تبادله تر سره شوه.

د افغانستان بانک د هیواد د مرکزي بانک په توګه ژمن دی چې له ټولو نړیوالو هیوادونو، په ځانګړې توګه له مالي او بانکي بنسټونو سره د نړیوالو قوانینو او مقرراتو په رڼا کې غوره بانکي اړیکې ولري او دې اړیکو ته پراختیا ورکړي.

# تدویر جلسه با نمایندگان بانکهای تجارتی







۷ جدی ۱۴۰۰– جلسۀ به رهبری محترم عبدالقدیر"احمد" معاون دوم د افغانستان بانک با نمایندگان بانکهای تجارتی در تالار شورای عالی د افغانستان بانک تدویر گردید.

در این جلسه در مورد بهبود فعالیتهای سکتور بانکی، بحث و تبادل نظر صورت گرفت. معاون دوم دافغانستان بانک از نمایندگان بانکهای تجارتی خواست تا خدمات بانکی بهتری را به مردم ارائه کنند. به گفته وی بانکها باید اجراآت خود را در پرتوقوانین و مقررات د افغانستان بانک برای مؤثریت هر چه بیشتر و استحکام نظام مالی عیار نمایند .قابل ذکر است که در این جلسه علاوه بر نمایندگان بانکهای تجارتی یکتعداد کارمندان آمریت های مختلف د افغانستان بانک نیز اشتراک داشتند.








# تدویر جلسه بمنظور دسترسی بیشتر مردم به خدمات مالی

۱۸ جدی ۱۴۰۰– جلسهٔ تحت رهبری محترم صدیق الله خالد آمر عمومی دفتر ریاست با نمایندگان اتحادیه بانک های افغانستان و نمایندگان بانک های تجارتی در مورد توسعه خدمات مالی (فعال سازی ماشین های ATM، POS، و بانکداری از طریق موبایل بدون ضرورت به انترنت) برگزار شد.

در این جلسه مشکلات و پیشنهادات نمایندگان بانک های تجارتی در خصوص توسعه خدمات مالی و فعال سازی ماشین های خودپرداز ای تی ایم مطرح و تبادل نظر صورت گرفت.

لازم به ذکر است که در این جلسه محترم صدیق الله خالد آمر عمومی دفتر ریاست د افغانستان بانک در مورد اهمیت توسعه خدمات مالی در کشور صحبت نموده و خاطرنشان ساخت که د افغانستان بانک متعهد است که به هر گوشه و کنار کشور خدمات مالی و بانکی را توسعه دهد. محترم خالد همچنان گفت که د افغانستان بانک به مشکلات بانک های تجارتی در پرتو قوانین و مقررات رسیدگی خواهد کرد.

د افغانستان بانک یک بار دیگر به مردم عزیز اطمینان می دهد که تلاش ها برای نورمال ساختن وضعیت سکتور بانکی با جدیت روان است و انشاالله به زودی نتایج ملموس خواهد داشت.



# د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) د مدیره پلاوي د دوه نوي یمې غونډې جوړېدل

د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) دوه نوي یمه غونډه د ۱۴۰۰ هجري لمریز کال د مرغومې میاشتې په ۷ نېټه په آنلاین ډول جوړه شوه. په دې غونډه کې د اکو سوداګرۍ او پراختیا بانک رئیس او د غړو هیوادونو ( افغانستان، پاکستان، ترکیې، ایران، آذربایجان او قرغیزستان ) د مدیره پلاوي غړو شتون درلود.

په یاده غونډه کې لومړی د مدیره پلاوي له لوري مخکینۍ صورت جلسه تصویب شوه او ورپسې د همدې بانک د ۲۰۲۲ زیږدیز کال د بودیجې د تصویب او همدارنګه له اجنډا سره سم د دې بانک په ځینو پالیسیو او مقرراتو کې د بدلونونو(تعدیلاتو) د راوستلو په تړاو خبرې اترې ترسره او لازمې پرېکړې وشوې.

د یادونې وړ ده چې دغه بانک په سیمه کې د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د مالي او اعتباري آسانتیاوو د رامنځته کولو، دودولو او وړاندې کولو او همدارنګه د اکو سازمان تر څار لاندې د غړو هیوادونو د اقتصادي پراختیا د چټکتیا په موخه پرانیستل شوی دی او مرکز یې د ترکیې په استانبول کې دی.
افغانستان په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د دې بانک غړیتوب ترلاسه کړی دی او په غونډو کې یې په منظم ډول ګډون کوي.
د افغانستان بانک تل هڅه کړې ده، څو د خپلو اړیکو د تأمین او ښه والي لپاره د نړیوالو او سیمه ایزو مالي سازمانونو سره فعاله ونډه ولري او د مالي او بانکي آسانتیاوو په برخه کې تر ټولو ښه او ارزښتناکه رول ولوبوي.

# د انفلاسیون ډولونه او د هغه کنټرول

پړسوب (انفلاسیون) په عامه اصطلاح د توکو او خدمتونو په نرخونو کې په عمومي کچه لوړوالي ته وایي یا په بل عبارت پړسوب په اقتصاد کې هغه حالت ته وایي چې پیسې خپل ارزښت له لاسه ورکړي او د توکو او خدمتونو په نرخونو کې لوړ والی راشي. انفلاسیون د اقتصاد په برخه کې لوړ ارزښت لري او په کار ده چې دولتونه دې ټکي ته ډېر پام وکړي.

**انفلاسیون څنګه کنټرولیږي؟**

د پړسوب د کنټرول لپاره بېلابېل سیاستونه او لارې وړاندې شوې دي چې پر بنسټ یې کولای شو د انفلاسیون نرخ راټیټ کړو، خو دا باید هېر نه شي چې هره لاره په ځانګړي وخت او سیمه کې د کارونې وړ وي. هر هیواد باید د انفلاسیون د کنټرول لپاره ځانګړي سیاستونه وکاروي او دا باید هېر نه شي چې په دوامداره توګه د انفلاسیون د کنټرول لپاره د یوه ابزار کارول غوره عمل نه ګڼل کیږي او له بېلابېلو ابزارونو باید کار واخیستل شي.

**په ټولیز ډول هغه ابزارونه چې د انفلاسیون د کنټرول لپاره کارول کیږي په لاندې ډول دي:**

پولي او مالي سیاستونه: دولت د بېلابېلو پولي او مالي سیاستونو په کارولو سره د انفلاسیون د کنټرول او کمښت لپاره کار اخلي. دا سیاستونه باید په بازارونو کې په ګردښت کې د نغدینګۍ د کمولو سره مل وي، څو په دې وسیله انفلاسیون هم را کم شي.

عایداتي سیاستونه: دولت د بېلابېلو عایداتي سیاستونو په کارولو سره او یا هم نېغ په نېغه د انفلاسیون په ټاکونکو کې لاسوهنه کوي او د پړسوب نرخ را ټیټوي.

**د پړسوب ډولونه:**

۱- د غوښتنې د زیاتوالي پړسوب (Demand Pull-inflation)

کله چې عمومي غوښتنه د عرضې په پرتله زیاته شي دې حالت ته د غوښتنې د ډېروالي پر بنسټ انفلاسیون وایي، او دا هغه وخت رامنځ ته کیږي کله چې بازار ته په ډېره کچه پیسې وړاندې شي، د خلکو په عایداتو کې زیاتوالی راشي او یا هم د عامو خلکو او د دولت په لګښتونو کې د پام وړ ډېروالی رامنځ ته شي.

۲-د بیو د لوړوالي پړسوب (Cost Push-inflation)

هغه وخت بیې لوړیږي کله چې د مزد یا



خامو موادو په بيو کې لوړوالی راشي، په دې معنا چې پر توليد تر سره شوی لګښت پر قيمت اچول کيږي چې بلاخره بيې ورسره لوړيږي. تاسې به پرمختللی هيوادونه ليدلي وي چې خپل توکي په وروسته پاتې هيوادونو کې جوړوي چې علت يې د ګارېګر د حقوقو کموالی دی.

۳- خوځنده پړسوب ( Creeping inflation)

کله چې د توکو او خدمتونو په بيو کې په کال کې په منځني ډول ٪۲ سلنه لوړوالی رامنځته يعنې لوړ شي، نو دې



پړسوب ته خوځنده انفلاسيون ويل کيږي، چې د اقتصادي پرمختګ لپاره اغېزناک دی.

۴- متحرک پړسوب (Walking inflation)

کله چې په منځني ډول د توکو او خدمتونو په قيمت کې په کلنی ډول ٪۵ سلنه لوړوالی راشي متحرک انفلاسيون بلل کيږي، دا سلنه هم د اقتصاد لپاره ډېره خطرناکه نه ده.

۵- ځغلنده پړسوب (Running inflation)

کله چې د اجناسو او خدمتونو په بيو کې په کلني ډول له ٪۸ څخه تر ٪۱۰ سلنه لوړوالی راشي دې حالت ته ځغلنده انفلاسيون وايي چې دا د اقتصاد لپاره خورا خطرناک دی او څومره چې ژر کېدای شي بايد کنټرول شي.

۶- شديد پړسوب (Hyper inflation)

په دې ډول پړسوب کې د جنسونو او خدمتونو د بيو منځنۍ کچه په کلني ډول تر ۲۰ سلنه لوړيږي او کله له دې هم لوړ ځي چې دا د يو هيواد د اقتصاد لپاره ډېر خطرناک انفلاسيون بلل شوی دی. د نړۍ ځينوهيوادونو د دوهم نړيوال جنګ څخه وروسته دا ډول انفلاسيون تجربه کړی دی او يو شمېر هيوادونو يو ځل بيا د کرونا ؤبا د خپرېدو پر مهال تجربه کړ، خو ډېری وخت شديد انفلاسيون د جنګونو او سياسي بې ثباتيوله کبله رامنځ ته کيږي.

۷- وارداتي پړسوب (Imported inflation)

د انفلاسيون هغه ډول دی چې په بل هيواد کې د بيو د لوړوالی پر بنسټ په کوربه هيواد کې انفلاسيون رامنځ ته کيږي، يعنې دا چې که فرض کړو مونږ له قزاقستان هيواد څخه اوړه راوړو، که چېرې د اوړو بيې په قزاقستان کې لوړيږي، نو دا د دې معنا لري چې مونږ به يې هلته په لوړه بيه اخلو او دلته به يې حتمي په لوړه بيه پلورو چې دې حالت ته وارد شوی انفلاسيون ويل کيږي.

۸ - د کرنسی پړسوب (Currency inflation)

کله چې د پيسو مقدار زيات شي او بيې لوړوالی پيدا کړي، يا په بله معنا کله چې مرکزي بانک بازار ته ډېرې پيسې وراندې کړي او د پيسو مقدار په بازار کې زيات شي، نو دې وخت کې بيې خپله لوړيږي چې دې حالت ته د کرنسۍ انفلاسيون ويل کيږي. •

راټولونه او زياتونه:

ح ن

سرچينې:

په افغانستان کې د انفلاسيون عوامل او د هغه د مخنيوي لارې/ ليکوونکی – صفت سمون

https://www.nunn.asia/40409/40409/

What Causes Inflation and Who Profits from It?/Updated December 02, 2021/ Reviewed by Michael J Boyle

https://www.investopedia.com/ask/answers/111314/what-causes-inflation-and-does-anyone-gain-it.asp

Inflation: How It's Measured and Managed/By Kimberly Amadeo/ Updated December 23, 2021/ Reviewed by Erika Rasure

https://www.thebalance.com/what-is-inflation-how-it-s-measured-and-managed-3306170

# چگونگی گردش پول در بازار

سرعت گردش پول به عواملی مانند وضع اقتصادی، حجم داد وستد، تواتر معاملات، ارزش پول، تورم، شرایط اعتبار و وام دهی و غیره بستگی دارد. یا به عبارتی دیگر، سرعت گردش پول عبارت از تعداد دفعاتی است که پول در یک دورهٔ زمانی معین دست به دست میگردد. در این پروسه، کالا همواره به دست فروشنده است و پول در دست خریدار می باشد.

پول وسیلهٔ است که کالا را به دست فروشنده انتقال میدهد، در مقابل خودش، از دست خریدار خارج شده در دست فروشنده قرار می گیرد تا همان پروسهٔ قبلی به شکل متواتر از سر گرفته شود.

تجربه نشان داده که هر قدر حجم نقدینگی بیشتر گردد و یا هم به هر اندازهٔ که ارزش مجموع کُل کالا و خدمات تولیدی کمتر گردد، گردش پول کاهش می یابد و گردش سرعت پول در وضعیتی که انتظارات تورمی در جامعه وجود نداشته باشد، گردش پول حالت پایدار داشته و در حالت تورمی معمولاً گردش پول، سرعت پیدا می کند.

همچنان عواملی دیگری که سرعت

»



گردش پول به آن بستگی دارد عبارت اند از اندازهٔ که تعداد دریافتها و پرداخت ها که به هر اندازه زیاد تر باشد به همان اندازه سرعت گردش پول بیشتر می باشد. در صورتی که تجارت داخلی و خارجی افزایش یابد، در این حالت تعداد معاملات بیشتر شده و در پی آن گردش پول نیز افزایش می یابد.

در شرایطی که وضعیت اقتصادی رونق یابد، گردش پول هم افزایش می یابد، در مقابل اگر رکود اقتصادی حاکم شود گردش پول نیز کاهش می یابد. در حالت تورمی ارزش پول کاهش می یابد، در نتیجه مردم مایل نیستند تا پول را نزد شان نگهدارند.

در چنین حالت آنها به مجرد دریافت پول آنرا به مصرف می رسانند که در این صورت هم گردش پول بالا می رود. در مقابل در حالتی که ارزش پول بالا برود، مردم پول شان را ذخیره کنند، سرعت گردش پول کاهش می یابد. همچنان در موجودیت تسهیل شرایط اعطای وام واعتبار، گردش سرعت پول بیشتر شده و در صورت کنترول آن کاهش می یابد.

یکی از متغیر های مهم در اقتصاد، سرعت گردش پول است، که روی تورم، تولید و حتی حجم پول در گردش اقتصاد کشور ها اثرات مهمی دارد. این متغیر ها بر اساس رابطهٔ پیچیده و متقابل با یکدیگر می توانند بر متغیر های کلان اقتصادی تأثیر بگذارند. در این عرصه ما می بینیم که یک چک با چه سرعتی دست به دست می گردد. ما می توانیم متوسط سرعت گردش یا تعداد دفعاتی را که یک واحد پول برای خرید کالا یا خدمات نهایی طی سال دست به دست می گردد را محاسبه کنیم. سرعت گردش پول، در صورت ثبات حجم پول، تابع مستقیم تولید است. با افزایش تولید، گردش پول نیز افزایش پیدا می کند و کاهش آن منجر به کاهش گردش پول می شود.

همچنان یکی از فاکتور های تأثیر گذار بر سرعت گردش پول حجم پول می باشد. زیرا تقاضای واقعی برای پول عبارت از تابعی مستقیم از حجم پول می باشد.

همچنان، عامل دیگری که می تواند در گردش پول خیلی مؤثر باشد نرخ بهره است. بر اساس دیدگاه برخی دانشمندان اقتصادی بخصوص کینز، ارتباط مستقیم بین نرخ بهره و سرعت گردش پول در کوتاه مدت وجود دارد.

زیرا با کاهش نرخ بهره، از یکطرف حجم پول به دلیل تبدیل شدن شبه پول به بانکنوت و مسکوکات در دست مردم و سپرده های دیداری و تقاضای پول افزایش می یابد، در نتیجه سرعت گردش پول کاهش پیدا می کند، اما در بلند مدت، با کاهش نرخ بهره، سرعت گردش پول دوباره افزایش می یابد. عامل مهم دیگری در ارزیابی سرعت گردش پول عبارت از نرخ تورم است. با افزایش تورم، تقاضا برای پول کاهش و در نتیجه سرعت گردش پول افزایش می یابد. به همین علت، کاهش تورم، باعث افزایش تقاضای پول و کاهش سرعت گردش پول می گردد.

گردش پول با نقدینگی رابطهٔ نزدیک دارد، نقدینگی عبارت از مجموعهٔ پولی است که شامل سپرده های دیداری در نزد بانکها می باشد. این نقدینگی شامل بانکنوت و مسکوکاتی بوده که در دست افراد قرار داشته، شامل پس انداز، قرض الحسنه و سپرده های دراز مدت «

می گردد. همچنان نقدینگی به حجم پول خارج از بانکها نیز اطلاق می گردد.

موجودیت پول زیاد در بازار موجب تورم پولی می گردد که در این صورت قدرت خرید مردم متأثر شده و گرانی را در پی دارد. در این پروسه ایجاب می کند که حجم پول در اقتصاد باید متناسب با تولید و ارائه خدمات باشد، تا یک تناسب میان پول در بازار و تولید خدمات ایجاد گردد. اگر این تعادل وجود نداشته باشد، تورم و رکود اقتصادی به میان می آید و در آن صورت ضربهٔ سنگینی بر اقتصاد کشور ها وارد می گردد.

همیشه با افزایش حجم نقدینگی میزان تقاضای کالاو خدمات نیز افزایش می یابد که در این صورت ارائه خدمات و کالا به محدودیت مواجه میگردد. این امر تورم را در پی خواهد داشت از همین رو کشور ها به کنترول حجم نقدینگی اقدام می نمایند، تا آنها به هدف های بزرگ اقتصادی شان در بخش تولید، کنترول تورم و اقتصاد کلان دست یابند.

اگر در نقدینگی مدیریت سالم صورت نگیرد، در آن صورت تأثیر منفی روی اقتصاد کشورها می گزارد. روی همین علت است که هر سال کشور ها گزارش افزایش یاکاهش میزان نقدینگی را نشر می نمایند، تا نشان دهند که حجم پول های دیداری نزد مردم چقدر است.

با مدیریت سالم نقدینگی می توان از بروز مشکلات جدی تر جلو گیری نمود. در سیستم بانکداری امروز، نقدینگی یکی مشکلات بزرگ بشمار می رود و باید به شکل دوامدار از آن بر رسی دقیق صورت گیرد.

بسیاری ها تصور می نمایند که مدیریت و کنترول نقدینگی یک کار آسان است، در حالیکه این امر مستلزم کمک های چندین نهاد متخصص می باشد.

انجام مدیریت و تفتیش از نقدینگی در یک مرحله صورت نمی گیرد، بلکه باید طی چندین مرحله آنرا پیگیری کرد. باید این مدیریت روزانه، هفته وار، ماهانه، شش ماهه و سالانه باشد.

مدیریت نقدینگی کار یک مرحله ای و کار آسانی نمی باشد، یکی از عوامل بد و خطرناک نقدینگی پولشویی است که نقدینگی را از کنترول خارج می کند و باید از آن تفتیش و کنترول جدی صورت گیرد.●

عبدالحفیظ شاهین

---

منابع:
۱-کاهش سرعت گردش پول چه معنایی دارد؟ - تجارت‌نیوز/ تاریخ نشر : ۲۰/۴/۱۳۹۷ / https://tejaratnews.com › insight
۲-روایت‌های اشتباه از علت تورم - دنیای اقتصاد/ تاریخ نشر: ۲۶/ ۸/ ۱۳۹۹ / https://donya-e-eqtesad.com
۳-برنامه توسعه سازمان ملل به گردش پول و اقتصاد محلی افغانستان / تاریخ نشر / ۲۹ / ۶/۱۴۰۰ / https://www.bbc.com › persian

# د لویو اقتصادي پروژو پلي کېدل اقتصادي وده رامنځته کوي

په هیواد کې د لویو اقتصادي پروژو پلي کېدل اقتصادي وده رامنځته کوي او خلکو ته د کار زمینه برابروي. د معلوماتو پر بنسټ ډېر ژر به په هیواد کې د یو شمېر لویو پروژو عملي چارې پیل شي چې دا د یو پرمختللي افغانستان لپاره عملي ګام ګڼل کېږي.

د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ په راتلونکي پسرلي کې به د ټاپ په ګډون د یو شمېر لویو اقتصادي پروژو عملي چارې پیل شي او په دې سره به افغانستان په کلني ډول له برېښنا د ګټې اخیستنې تر څنګ د ټرانزیټ حق هم تر لاسه کوي چې نېغ په نېغه هیواد ته د اسعارو د راتګ لپاره لار پرانېزي.

ټاپ د ترکمنستان، افغانستان او پاکستان هیوادونو د برېښنا د لېږد ګډه پروژه ده چې څه باندې ۱.۶ میلیارده امریکایي ډالر پانګه اچونه پرې کېږي. د دې پروژې په عملي کېدو سره د ترکمنستان هیواد ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدول کېږي.

افغانستان به د ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا سربېره په کلني ډول له دې لارې شا او خوا سل میلیونه امریکایي ډالر د ټرانزیټ حق تر لاسه کوي.

د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ په دې وروستیو کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیرخان متقي له ترکمنستاني چارواکو سره په لیدنه کې د ټاپ پروژې، همدارنګه په آقینه او تورغونډۍ بندرونو کې د اورګاډي نیمګړو پروژو بشپړولو بحثونه کړي دي او ژمنه شوې ده چې راتلونکي پسرلي ته به د برېښنا د ټاپ پروژې او د رېل پټلۍ غځونې عملي چارې پیل شي.

دآقینې – اندخوی رېل پټلۍ ۶۳۵ کیلو متره اوږدوالی لري او د افغانستان د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالۍ کې د اقینې بندر له ترکمنستان هیواد سره نښلوي.افغانستان په دې سره له منځنۍ اسیا بیا ترکیې او اروپا سره نښلېږي.

د ریل پټلۍ د افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول لوبولی شي چې افغانستان له دې لارې کولای شي خپل صادراتي توکي تر اروپایي بازارونو ورسوي او له دې لارې نېغ په نېغه هیواد ته د اسعارو د راتګ زمینه برابره کړي.

د افغانستان د اسلامي امارت له لوري د دې ډول پروژو عملي کول افغانستان د نړۍ له هیوادونو سره نښلوي او د سوداګرۍ په برخه کې د پرمختګ د رامنځته کېدو لامل کېږي. د نړۍ له هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو پراختیا دې ته لار هواروي چې په کور دننه خلکو ته د دندو زمینې برابرې او په ټوله کې اقتصادي وده رامنځته شي.





# نقش مالیات در اقتصاد کشور

پرداخت مالیات یکی از مهمترین عوامل رشد و توسعهٔ یک کشور محسوب می گردد. این امر موجب رشد اقتصادی، تحقق عدالت اجتماعی، افزایش خدمات و آبادانی افغانستان می گردد. در حقیقت مالیات یک درآمد پایدار در تأمین بودجه و مصارف عمومی می باشد.

مالیات عبارت از دریافت قسمتی از دارایی افراد ثروتمند از نظر اقتصادی و توزیع آن به افراد نا توان خیلی عادلانه است. در صورت توزیع عادلانه تر مالیات، شکاف درآمدی میان گروه های جامعه از بین می رود.

امروز ارزش مالیات در تأمین اهداف عمدهٔ اجتماعی، اقتصادی و بودجه یی دولت ها بر هیچ کس پوشیده نیست. در بعد اجتماعی هدف اساسی مالیات کاهش فاصلهٔ طبقاتی و توزیع مجدد درآمد ها می باشد. دولت ها همیشه می کوشند تا از نگاه اقتصادی ثروت بین تمام افراد جامعه عادلانه باشد. روی همین علت، مالیات یکی از مهمترین ابزاری است که دولت ها از طریق دریافت آن از افراد غنی جامعه و مصرف آن در تأمین خدمات، مانند مسکن، صحت، تعلیم و تربیه، توزیع مناسب درآمد، تحقق عدالت اجتماعی، تحقق رشد اقتصادی، حمایت از سرمایه گذاران، و سایر بخش های افراد کم درآمد جامعه و تحقق خدمات اجتماعی نام برد.

دولت در ایجاد عدالت مالیات در جامعه، نقش اساسی را ایفاء می نماید. مردم هم به حیث تشکیل دهندهٔ یک اجتماع در رسیدن به اهداف فوق دولت را یاری می دهند، در این عرصه مردم باید با شفافیت کامل از درآمد و پرداخت به موقع شان به

»

دولت اقدام نمایند، تا اکثریت افراد جامعه از خدمات صحی و رفاهی بهره مند گردند.

یکی از محور های اصلی و مهم افزایش میزان اتکای اقتصاد کشور همین مالیات است که دولتمردان را وا داشته است تا تلاش های زیادی را برای انتخاب راهکار های مناسب برای تحقق یافتن این هدف اساسی به کار گیرند.

با نگاهی اجمالی به شاخصهای پیشرفت اقتصاد در کشورهایی که مالیات در شالوده اقتصاد آنها نقش اصلی را ایفا می کند متوجه می شویم که تکیه بر درآمدهای پایدار مالیاتی ضامن رشد و توسعه اقتصاد بوده و ضریب اطمینان موفقیت در اجرای پروژه های عمرانی و زیر ساختهای شهری با استفاده از مالیات بسیار بالا می باشد.

در افغانستان پیشرفت صنعت و تجارت نیز در گرو مالیات است، همین مالیات در تأمین بودجه و مصارف عمومی تمام کشور ها و جوامع بشری خیلی زیاد اثر گذار می باشد که از آن به عنوان درآمد پاک نیز یاد می گردد.

با وضع مالیات، دولت می تواند به رشد و ترقی جامعه کمک نموده و با هدایت نمودن پول مالیات جهت سرمایه گذاری برنامه ریزی نموده و از طریق اعطای تسهیلات بلند مدت بانکی باعث شکوفایی شرکت ها شده و در نتیجه با افزایش درآمد شرکت ها، درآمد مالیاتی نیز افزایش می یابد.

ترویج فرهنگ مالیاتی در آبادانی کشور و ایجاد امکانات اساسی، مهمترین گامی است که دستگاه مالیاتی باید اهتمام خاصی به آن داشته باشد. زیرا برنامه امور مالیاتی ضرورت به هدایت افکار و باور عمومی دارد تا مردم را به پرداخت آن تشویق نماید.

در کشور های در حال توسعه مالیات بخاطری جمعاوری میگردد تا با تطبیق برنامه های درست، شرکت های خصوصی داخلی و خارجی بیشتر به سرمایه گذاری تشویق گردند. همچنان، هدف عمدهٔ وضع مالیات تأمین مصارف دولت است، روی همین علت باید برای افزایش درآمد های مالیاتی فرهنگ سازی و اعتماد سازی مناسب صورت گیرد تا مردم به اطمینان کامل بخشی از درآمد های حاصل فعالیت های اقتصادی خود را به مالیات اختصاص دهند.

قابل ذکر است که در این اواخر یک کمیتهٔ مشترک متشکل از وزارت های مالیه، زراعت، آبیاری و مالداری و وزارت حج و اوقاف در حال آماده سازی میکانیزم طرح مالیاتی هستند، بر اساس این طرح مالیاتی عشر از زمین داران و زکات از هر شهروند واجد شرایط اخذ می گردد، بناءً از هفتهٔ جمع آوری مالیات تجلیل بعمل آمد و سران حکومت ا.ا.ا از مردم خواست تا به دولت مالیات خود را به وقت پرداخته و در این زمینه مسوولیت ملی خویش را ادا نمایند.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- از هفته مالیات طی مراسمی تجلیل به عمل آمد | وزارت مالیه/ تاریخ نشر : ۲۵ / ۱۰ / ۱۴۰۰ / https://www.mof.gov.af

۲-هفته جمع‌آوری مالیات؛ طالبان: همه مردم به ویژه سرمایه گذاران باید / تاریخ نشر : ۲۵ / ۱۰ /۱۴۰۰ / https://www.khaama.com › archives

۳-هفته مالیات' طالبان؛ شهروندان افغانستان باید 'عشر و زکات /تاریخ نشر : ۲۵/۱۰ / ۱۴۰۰ / ttps://www.bbc.com › persian

# اعتباري کارت (کریډیټ کارت) او د هغه کارونه

اعتباري کارت هغه کارت ته ویل کېږي چې په برېښنايي توګه د اجناسو د پيرلو او خدمتونو په بدل کې د پيسو د ورکړې زمينه برابروي. ډبټ کارت، کریډیټ کارت او د مخکې اداينې کارتونه د اعتباري کارت عمده ډولونه دي.

د پيسو د ورکړې له کارت څخه معمولاً د صرافۍ په خپل کاره ماشينونو (ATM)، کارت ويونکو دستګاوو يا پاز (Point of Sale) او په انلاين پېرلو کې ترې ګټه اخيستل کيږي. د يادونې وړ ده چې د پيسو د ورکړې کارتونو ته د صرافۍ د خپل کاره ماشين کارتونه يا ATM Card هم ويل کېږي.

**۱. اعتباري کارت (کریډټ کارت)**

اعتباري کارت، چې کریډټ کارت هم ورته ويل کېږي پيرودونکي ته د دې زمينه برابروي، ترڅو خپل اړونده توکي او خدمتونه وپيري او پيسې يې وروسته ورکړي. د اعتباري کارت د کارونې پر مهال د کارت لرونکي له حساب څخه پيسې نه ورکول کېږي، بلکې پيرودونکي د اعتباري کارت په وسيله د خپلو پېرودنو لپاره د بانک له پيسو څخه پيسې ورکول کېږي او وروسته د بانک پيسې د هغې له ټکټانې سره يوځای بانک ته ورکوي.

فرض کړئ چې يو شخص د هيواد د يوه بانک د باور وړ پېرودونکی دی او غواړي چې اعتباري کارت ولري، تر څو هغه مهال چې له پېرودونکي سره پيسې نه وي، له خپل کارت څخه په استفادې د خپلو اړتيا وړ اجناسو او خدمتونو د پېرلو لپاره پيسې ورکړي.

»








مالي اداره هغه باور ته په پام سره چې د یو پېرودونکي په توګه یې پر مشتري باندې لري، پېرودونکي ته د ۲۰،۰۰۰ افغانیو اعتبار په لرلو سره یو اعتباري کارت ورکوي، څو د اړتیا پر مهال د ورکړل شوي اعتبار د حد یا مبلغ څخه پیسې ولګوي. په داسې یو حالت کې اعتباري کارت پېرودونکي ته اجازه ورکوي چې پیسو ته د اړتیا پر مهال له هغې څخه ګټه واخلي.

که چیرې پېرودونکی خپل کریډیټ کارت د توکو او خدمتونو د پېرلو لپاره وکاروي او د اعتباري کارت ټولې لګېدلې پیسې تر ټاکلې مودې پورې بانک ته ورکړي، پېرودونکی به د کارول شویو پیسو په بدل کې بانک ته هیڅ ډول ټکټانه نه ورکوي، که چېرې پېرودونکی تر ټاکلې مودې پورې پیسې بېرته بانک ته ورنکړي، په دې صورت کې پېرودونکی اړ دی چې بانک ته ټکټانه ورکړي. د ټکټانې پرته د بېرته ورکړې ټاکل شوې موده د بانکونو ترمنځ توپیر لري. خو معمولاً دا موده شاوخوا یوه میاشت وي.

د یادونې وړ ده چې که چېرې پېرودونکی په خپل حساب کې پیسې لري او له خپل اعتباري کارت څخه هم کار اخلي، خو په بانکي حساب کې شته پیسې یې د هغو پیسو څخه زیاتې دي چې پېرودونکي له کریډیټ کارت څخه مصرف کړې دي، په داسې حال کې بانک د میاشتې په پای کې د کریډیټ کارت له لارې کارول شوې پیسې د پیرودونکي له بانکي حساب څخه وضع کوي او په کار نه ده چې پېرودونکی د لګښت شویو پیسو د ورکړې لپاره اندیښنه وکړي.

پېرودونکي کولای شي چې د اعتباري کارت څخه د انټرنټ له لارې او په هغو مارکېټونو کې چې د پاس ماشین لګېدلی وي، د توکو او خدمتونو د پېرلو لپاره کار واخلي او د دې ترڅنګ د اعتباري کارت څخه کولای شي چې د صرافۍ د اتومات ماشینونو څخه نغدې پیسې راوباسي.

که چېرې پېرودونکی په یوه بانک کې جاري حساب یا د سپما حساب ولري، کولای شي چې د اعتباري کارت لپاره غوښتنه وکړي. په بانک کې د سپما او یا جاري حساب په درلودلو سره د پېرودونکي د اعتباري کارت د ترلاسه کولو چانس زیاتېږي. ځکه چې په بانک کې د پېرودونکي د پیسو د کچې، د عایداتي سرچینې او د بېرته ورکړې د ځواک په اړه بانک معلومات لري او په دې پوهېږي چې پېرودونکی تر کومه بریده د اعتباري کارت د ترلاسه کولو وړتیا لري.

د اعتباري کارت غوښتونکی کولای شي چې د یاد کارت د ترلاسه کولو لپاره د پام وړ بانک ته خپل غوښتنلیک وړاندې کړي. که چېرې د اعتباري کارت غوښتونکی د بانک پیرودونکی نه وي، په دې صورت کې اړتیا ده چې پیرودونکی په بانک کې جاري حساب پرانېزي.

بانک ته په کار ده چې د اعتباري کارت غوښتونکي د عایداتي سرچینې او کچې په اړه اړین معلومات ترلاسه کړي او په دې ځان پوه کړي چې پېرودونکی تر کومه بریده د دې کارت د ترلاسه کولو وړتیا لري او آیا پیرودونکی د اعتبار د بېرته ورکړې ځواک لري یا نه. تر ټولو مهم لامل چې ستاسو د اعتباري وړتیا کچه ټاکي هغه د اعتبار د بېرته ورکړې ځواک، د عاید کچه او د بېرته ورکړې لیوالتیا ګڼل کېږي.

اعتباري کارتونه کېدلای شي له تضمین سره یا له تضمین پرته وي. د تضمین پرته اعتباري کارت هغه مهال پیرودونکي ته ورکول کېږي چې بانک د پیرودونکي د بېرته ورکړې ځواک، د عاید کچه او د

»

بېرته ورکړي لېوالتیا پـه اړه مـعـلـومـات ولري او په دې باوري وي چې د اعتـبـار (پور) د کارولو په صورت کې هغه پیسې بېرته تادیه کوي.

د تضمین پرته اعتباري کارت یوازې هغو وګړو ته ورکول کېږي چې د بـانـک مخکیني پیرودونکي وي یا دا چې د عامه اعتبارونو د ثبت له اداري سره پـه ښـه درجه او اعتباري سوابقو ثبت شوي وي.

که چېرې بانک د کارت غوښتونکـي د بېرته ورکړې پر ځواک، د عاید کچې او د بېرته ورکړې په لېوالتـیا بـانـدې بـاور ونلري او یا کافي معلومات په واک کې ونلري، په دې صورت کې له غوښتونکي څخه غواړي ورته مبلغ چې په اعـتـبـاري کارت کې اضافه کوي، په خپل بـانـکـي حساب کې وساتي.

بانک دا پیسې کنګلوي او په هغه صورت کې چې د اعتباري کارت کاروونکـی د بانک پیسې بېرتـه ورنـکـړي، بـانـک د کنګل شویو پیسو له لارې خـپـل مـبـلـغ ترلاسه کوي. په هغه صورت کې چې شخص د بانک کارول شوې پیسې بېرتـه ورکړي، د بانک سره یې اعتبار زیاتیـږي او کېدای شي چې په راتـلـونـکـي کـې بانک نوموړي شخص ته له تضمین پـرتـه اعتباري کارت ورکړي. ډېری اعـتـبـاري کارتونه د ماسټر کارت او وېزه کارت د مشهورو نړیوالو کمپنیو له لوري چـمـتـو کېږي.

اعتباري کارتونه دPIN پن کوډ په نوم یـا د شخصي تشخیصوونکې شمېرې په نـوم یو ډول کوډ لري. پن کـوډ یـو څـلـور عددي کوډ دی (لکه ۲۴۹۷) چې تـاسـې یې د ځان لپاره په شخصي او پټه تـوګـه ټاکئ او یوازې د پن کوډ په دننه کـولـو سره تاسې له خپـل کـارت څـخـه کـار اخیستلای او د پـیـسـو ورکـړه تـرسـره کولای شئ.

**د اعتباري کارت ګټې:**

- د نغدو پیسو د لرلو او لېږد د خطر کموالی.
- د اجناسو د پېرلو او خدمتـونـو پـر مهال په بریښنایي بڼه د پـیـسـو د ورکړې اسانتیا.
- د پېرنې پر مهال په پاس ماشینـونـو کې د کارولو وړ دی.
- د انټرنټ له لارې د پېرنې پر مهال د اداینې لپاره د کارولو وړ دی.
- د صرافۍ له خپـل کـاره مـاشـیـن څخه د نغدو پیسو وېستل.
- له هېواد څخه بهر د سفر په وخـت کې د کارولو وړ دی او
- د ورکیدو په صورت کې قیـد یـا بندیدای شي.

> **یادونه:**
>
> باید وویل شي هغه کارتونه چې بانکـونـه د هغې په مقابل کې له مشتریـانـو څـخـه سود اخلي د اسلامي شریعت له نـظـره د هغې کارول جواز نه لري.
>
> **اسلامي بانکوالي د پـیـسـو د ورکـړې ځانګړي کارتونه لري او په کار ده چې درانه هیوادوال په هیواد کې د اسـلامـي بانکوالۍ د پراختیا لپاره له دې کـارتـونـو څخه کار واخلي.**

لیکنه او راټولونه: ح.ن

سرچینې:

۱ – کتاب مفاهیم مالی و بانکی به زبان ساده/ اعتباري کارتونه او د هغو ګټې

۲- https://dab.gov.af/sites/default/files/2020-12

۳ – کارت اعتباری چیست؟ / https://way2pay.ir/57090/

۴ – What is a credit card?Important credit card terms / https://www.bankrate.com/finance/credit-cards/what-is-a-credit-card/ Written by Meredith Hoffman/ Dec 2021




# تحکیم امنیت و جلوگیری از فساد باعث افزایش درآمد گمرکی می شود

نبود امنیت و فساد در گذشته از جمله موانعی بود که عواید گمرکات کشور به گونه درست جمعآوری نمی گردید، حال انتظار می رود که با روی کار آمدن نظام امارت اسلامی افغانستان در این زمینه توجه بیشتر صورت گیرد و عواید به گونه درست و کامل جمعاوری گردد.

اگر عواید گمرکات کشور به گونه درست و به دور از فساد جمعآوری گردد کشور را به طرف خودکفایی و توسعه اقتصادی سوق می دهد.

پیش از این انتقاداتی مطرح می شد که فساد و ناامنی منجر شده است که عواید گمرکات به گونه کامل جمع آوری نه شود.

در حال حاضر تمام سیستم های گمرکات کشور با سیستم د افغانستان بانک وصل است، و تلاش نظام کنونی کشور خوشبختانه در جهت استفاده بهینه از این سیستم ها است که می کوشند تا عواید کشور را بشکل شفاف جمعآوری نمایند.

همچنان شواهد وجود دارد که نشان می دهد گروه های مختلف در گذشته از موترها در بزرگ راه ها پول می گرفت، اما با آمدن ا.ا.ا این گونه فعالیت ها متوقف شده و هیچکس حق ندارد که از رانندگان موترهای باربری پول بگیرد.خوشبختانه این امر می تواند ثبات قیمت ها را در بازارها در حد مطلوب نگهدارد. به این معنی که قبل از این پولی که از صاحبان موترها گرفته می شد، تاجران باید تمام آن پول را با قیمت تمام شده کالای خود افزود می نمود که منجر به افزایش قیمت در بازارها می شد.

به همین اساس امنیت برای توسعه اقتصادی یک امر مبرم می باشد. در حال حاضر که افغان ها به امنیت دست یافته اند، باید تلاش های خود را برای توسعه اقتصادی افزایش داده و به فعالیت های تجارتی بیشتر بپردازند.

تحکیم امنیت همچنین راه را برای سرمایه گذاری بیشتر شهروندان در داخل کشور هموار می کند که این نیز به نوبه خود منجر به افزایش درآمد می شود. افزایش درآمد باعث ایجاد تغییرات مثبت اقتصادی در زندگی مردم و ایجاد شغل در سراسر کشور خواهد شد.



# تأثیر قیمت و کیفیت بر فروش کالا

کیفیت و قیمت عبارت از دو عنصر اساسی در تصمیم گیری های اطلاعات کالا ها شمرده می شوند. در این عرصه بسیاری از مصرف کنندگان قیمت را به عنوان ملاک کیفیت کالا پذیرفته و برای القای کیفیت به مشتری قیمت های بالا تری را برای کالا های خود انتخاب می نمایند.

بر اساس نتایج تحقیقات دیپارتمنت کسب و کار پوهنتون ایندیاینا در امریکا و سایر پوهنتون ها مشخص شده که مردم به قیمت بیشتر از کیفیت توجه بخرج می دهند. نتایج تحقیقات نیز در این عرصه نشان می دهد که بازار یابان نیز از این گرایش افراد برای فروش محصولات شان استفاده می نمایند.

بعضی دانشمندان در این عرصه به این نظریه اند که برای کاهش این روند، صاحبان فروشگاه ها، باید مصرف کنندگان را به بررسی گرفتن کیفیت در مقابل قیمت تشویق نمایند. بخاطر تحقق این کار، باید برچسپ های کیفیت بروی کالا ها ثبت شوند.

در شرایط کنونی به دلیل بهتر بودن کیفیت و شفافیت قیمت گذاری از طریق انترنت و سایت های معتبر کار های مهمی صورت گرفته و شفافیت در این دو عرصه بوجود آمده، اما با آنهم سود جویان از قیمت بالا تر به عنوان کیفیت بهتر سوء استفادۀ بیشتر می کنند. بیشتر دانشمندان در یافته اند که مدیران فروشگاه ها در تصمیم گیری های قیمت گذاری خود می دانند که چگونه راهبردی را در این عرصه بکار گیرند.

بطور نمونه، مدیر اجرایی یک کالا در نظر می گیرد تا قیمت بالایی داشته باشند تا مشتریان به خرید آن راضی شوند، آنها این قیمت شان را با تبلیغات و بسته بندی زیبا خوب جلوه می دهند.

محققان در یافته اند زمانی که مصرف کنندگان تصمیم به شناسایی بیشتر یک محصول و مقایسه با دیگر محصولات اطراف خود دارند، تفاوت های ظاهری زیادی را در میان مارک ها تشخیص می دهند که باعث افزایش وابستگی آنها به قیمت، به عنوان قضاوت در کیفیت می گردد.

»

در این عرصه تحقیقات نشان می دهد که مصرف کنندگان از کشور ها و سایر جوامع جهانی در مورد کیفیت و قیمت ارزیابی قوی تری دارند، زیرا آنها با طیفی مختلفی از مردم و فرهنگ ها ارتباط دارند.

در بازار امروز، رابطه بین مشتری و فروشنده روز بروز پیچیده تر شده می رود و فاکتور های مختلف روی آن تأثیر گذار می باشد. در میان متغییر های مختلف این بخش، می توانیم دو نوع آنها که عبارت اند از کیفیت و قیمت آن می باشد مورد بر رسی قرار دهیم.

در میان مردم بیشتر مروج است که هر چقدر قیمت یک کالا بیشتر باشد کیفیت آن نیز بالا خواهد بود. هرگاه تولید کننده بخواهد چیزی را تولید کرده و به بازار عرضه نماید می تواند با استفاده از تکنالوژی جدید کیفیت آن را بالا برده، بیشتر تولید کند و بیشتر بفروشد.

صنعت هر کشور، نقش اساسی را در رفاه، و آسایش مردم دارد. یکی از پیشنیاز های مهم موجب توسعه ی صنعت و بقا و دوام آن در داخل و بازار های جهانی عبارت از کیفیت کالا های تولیدی آن می باشد. در کنار پاین بودن کیفیت تولیدات و در نتیجه ناتوانی محصولات داخلی در رقابت با محصولات مشابه خارجی یکی از عوامل مشکلات اساسی فضای کسب و کار اقتصادی می باشد.این امر به نوبۀ خود منجر به کاهش سرمایه گذاری در بخش تولید میگردد. کاهش سرمایه گذاری در بخش های تولید کم کیفیت صدمات جبران نا پذیر را برای اقتصاد کشور ها دارد.

مشتریان و مصرف کنندگان همیشه در جستجوی تولید کنندگانی هستند که کالا یا خدمات بهتر و با کیفیت تری را برای شان ارئه کنند. از همین علت است که تولید کنندگان کوشش می کنند تا از طریق دست یابی تولید و خدمات با کیفیت نسبت به سایر رقبای خود در بازار های داخلی یا خارجی به موقعیت خوبی دست یابند.

در شرایط کنونی کیفیت محصولات به عنوان یک عامل بقاء برای شرکت های تولید است، در چنین وضعیت تولیدات داخلی موجب می شود تا سرمایه های بخش خصوصی هدر نرفته و یا هم از کشور خارج نشوند. وقتیکه سرمایه هدر نرفت، در چنین حالت، سرمایه منجر به تولید و اشتغال شده، بسیاری از ناهنجاری های اجتماعی ریشه کن می گردد. در صورتیکه کیفیت تولیدات داخلی عالی باشد، الگوی مصرف مردم به سمت تولیدات داخلی سوق داده شده، در نتیجه اقتصاد شکوفا می شود. اقتصاد وقتی به شکوفایی خود می رسد که بستر های مناسب آن مانند، کیفیت تولید، منابع انسانی مبتکر، سرمایه گذاری کافی، مدیریت خوب، ارائه مناسب خدمات و غیره اشاره نمود. ارائه خدمات و تولید با کیفیت از مهمترین عوامل رشد اقتصادی محسوب می گردد. زیرا از این مسیر اقتصاد بسوی شکوفایی حرکت می کند.

بعضی جنبه های کیفیت مانند کار آیی، قابل اعتماد بودن و یا طول عمر آن به آسانی قابل شناسایی می باشد، درمقابل بعضی جنبه های دیگر کیفیت به آسانی قابل اندازه گیری نمی باشد، در این صورت تولید کنندگان باید آینده نگری داشته و یک پلان روشن در مورد آیندۀ خود داشته باشند.

در نهایت می توان گفت که قیمت و کیفیت دو عامل عمده و اساسی در بازار و روابط بین فروشنده و مشتری می باشد. در این عرصه با توجه به عوامل روان شناختی بعضی اوقات تصور می شود که به هر اندازه که قیمت یک کالا بیشتر باشد به همان اندازه کیفیت آن نیز بیشتر باشد، در حالیکه ممکن است که همیشه چنین نباشد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱-تولیدات داخلی؛کمک یفیتوگران / تاریخ نشر: ۱۳ / ۸/۱۴۰۰ https://www.barkhat.news

۲- تعریف کیفیت زندگی چیست؟ ۲۶ راه بهبود کیفیت زندگی/ تاریخ نشر / ۳/ ۳/ ۱۳۹۹ / https://www.wikiravan.com › blog

۳-کیفیت، رقابت و قیمت، پازل حمایت از تولید ملی/ تاریخ نشر / ۲۶ / ۱/ ۱۳۹۷ / https://www.mizan.news › news

# اقتصادي خبرونه

## کابل کې اقتصادي کنفرانس؛ د اسلامي امارت مشرانو د هیواد د کنګل شویو شتمنیو د خوشې کېدو غوښتنه وکړه

په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته په کابل کې د دې هېواد د اقتصادي برخلیک په تړاو لومړنی اقتصادي کنفرانس جوړ شو. په دې کنفرانس کې د حکومت لوړپوړو چارواکو او د ملګرو ملتونو استازو ګډون کړی و.

غونډې ته په وینا کې ښاغلي رئیس الوزرا ملا محمد حسن اخوند وویل، نړیوال باید اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او په ټوله کې د افغانانو سره مرستې وکړي.

د نوموړي په خبره "هغه هېوادونه چې ځانونه دبشر حقونو مدافعین بولي دافغانستان دپیسو په کنګل ساتلو سره یې افغانان له بشري ناورین سره مخ کړي دي.

تېرو کلونو کې له افغانستان سره بنسټیزې مرستې نه دي شوې، افغانستان سره باید دوامداره بنسټیزې مرستې وشي ترڅو په ځان بسیا شي".

غونډې ته وینا کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي وویل، د دوی حکومت په رسمیت د پېژندل کېدو شرایط پوره کړي او "په افغانستان کې پانګونې ته اوس ښه زمینه برابره ده". ښاغلي متقي د افغانستان کنګل شویو شتمنیو ازادۍ غوښتنې تر څنګ وویل، " بشردوستانه مرستې د لنډ مهالو ستونزو لپاره حل دی، خو په اوږدمهال کې افغانستان کې زیربنایي پروژو لپاره اړتیا ده".

دې یوه ورځنی اقتصادي کنفرانس کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې دیبورا لاینز ویلي، چې باید په ګډه کار وشي او د افغانستان اقتصاد له پرځېدو وژغورل شي.

ملګري ملتونه وایي چې د افغانستان نیمایي وګړي بشري مرستو ته اړتیا لري. دغه سازمان له مرستندویه ادارو سره په شریکه د رواني جنورۍ میاشتې پر ۱۱ مه په افغانستان کې د بشري مرستو لپاره د پنځه میلیاردو ډالرو مرستې غوښتنه وکړه.

د افغانستان ملي ټلویزیون په ریوټ کې د اغلې لاینز له قوله ویل شوي، چې ملګرو ملتونو نړیوالې ټولنې ته له افغانستان سره د اته میلیاردو ډالرو مرستې لپاره د انتقالي چوکاټ په نامه یوه غوښتنه وړاندې کړې ده، چې د افغانستان اقتصاد عادي حالت ته وګرځي.

د یادونې ده، چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنېدو څخه وروسته نړیوالو مالي ادرو د افغانستان نژدې لس میلیارده ډالره شتمنۍ او له دې هېواد سره د مرستو لپاره ساتل شوې پیسې کنګل کړې، چې ډېره برخه یې په امریکا کې ده.

## اتحادیهٔ اروپا بیش از ۳۰۳ میلیون دالر به مردم افغانستان کمک می کند

اتحادیهٔ اروپا از بستهٔ جدید کمک مالی به مردم افغانستان خبر داده گفته است که بیش از ۳۰۳ میلیون دالر (۲۶۸.۳ میلیونیورو) را در بخش صحت، معارف و معیشت مردم در این کشور هزینه خواهد کرد.

این اتحادیهٔ۲۸ جدی ۱۴۰۰ با نشر اعلامیه‌ای گفت که این پول از طریق صندوق وجهی سازمان ملل متحد برای اطفال (یونیسف)، سازمان جهانی غذا، سازمان جهانی صحت، کمیشنیری عالی سازمان ملل »

متحد در امور پناهندگان، ادارهٔ توسعه‌ای ملل متحد و سازمان بین‌المللی مهاجرت در این کشور به مصرف خواهد رسید.

در اعلامیه آمده است که این کمک‌های مالی روی بهبود صحت مردم افغانستان، سو تغذیه کودکان، فراهم کردن آب پاک آشامیدنی و آموزش به ویژه برای زنان و دختران افغان متمرکز خواهد بود.

مقام‌های اتحادیهٔ اروپا گفته اند که آنان به کمک های شان برای نیازمندان در افغانستان ادامه و مردم این کشور را در چنین وضعیت رها نخواهند کرد.

با مسلط شدن طالبان بر افغانستان، این کشور با بحران شدید بشری مواجه شده و پیش از این، ملل متحد هشدار داده بود که مردم افغانستان در آستانهٔ زمستان با قحطی و گرسنگی گسترده دست و گریبان بوده و بر اساس تخمین این نهاد اگر کمک‌های آنی فراهم نشود، حدود ۹۷ درصد جمعیت افغانستان از وضعیت موجود بشری در کشورشان متاثر خواهند شد.

در اعلامیه آمده است: "ما همچنین از فعالیت‌های درامد زا، مصوونیت غذایی و بازارهای محلی پشتیبانی می‌کنیم. ما برای کاهش رنج مردم و حفظ آینده آنان، به ویژه زنان و جوانان، به سرعت اقداماتی را انجام داده‌ایم".

اتحادیهٔ اروپا افزوده است که بیش از ۲۰۹ میلیون دالر (۱۸۶ میلیونیورو) این کمک‌ها روی هفت پروژه در بخش های صحت، معیشت و معارف مصرف خواهد شد. در این کمک های مالی برای آموزگاران افغان نیز کمک های اضطراری و بسته‌های مالی در نظر گرفته شده است.

بر اساس تصمیم اتحادیهٔ اروپا، قرار است ۱۹۴هزار آموزگار مکاتب دولتی از این کمک‌های مالی در افغانستان مستفید شوند که برای دو ماه زمستان به هر آموزگار ماهانه بیش از ۱۰۰ دالر (۹۰یورو) پرداخته خواهد شد.

اتحادیهٔ اورپا تاکید کرده است که با کمک مالی به آموزگاران افغان، هزاران کودک به شمول دختران از آموزش و پروش در این کشور مستفید خواهند شد.

در اعلامیه آمده است که برای آموزش دختران و پسران، برنامه جهانی غذا به همکاری صندوق وجهی ملل متحد برای اطفال، کمک‌های غذایی را فراهم خواهند کرد و نیز با خانواده‌های شاگردان دختر، کمک نقدی خواهد شد تا کودکان شان به آموزش در مکاتب اجازه دهند.

این در حالی است که هیات معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) می گوید که کمک های بشری جامعه جهانی برای رسیدگی به نیازمندان در افغانستان کافی نیست و از نهادهای بین‌المللی می‌خواهد که در این زمینه توجه جدی کنند.

سرچینې:
۱- بي بي سي پښتو ویب پاڼه / https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-60050976
۲- صدای امریکا / https://www.darivoa.com/a/new-EU-financial-aid-to-the-people-of-Afghanistan/6403022.html




# ۲۰۲۲ زیږدیز کال او د نړۍ لوړ ارزښت لرونکي پولي واحدونه

اوسمهال په نړۍ کې ۱۸۰ پولي واحدونه شتون لري چې د ملګرو ملتونو سازمان، د غړو هیوادونو، د ملګرو ملتونو، د څارونکو هیوادونو او د محدود رسمیت لرونکو او په هغې پورې اړوند قلمرو لرونکو هیوادونو د قانوني پیسو په توګه پېژندل کېږي.

په دې مقاله کې د نړۍ د هغو لسو هیوادونو په اړه معلومات را ټول شوي دي چې د نړۍ تر نورو پولي واحدونو د لوړ ارزښت لرونکي دي د لیکنې په وروستي برخه کې د نړۍ د لسو هغو هیوادونو نومونه هم یادوو چې تر ټولو ټیټ ارزښت لرونکي پولي واحدونه لري.

**د نړۍ لس لوړ ارزښت لرونکي پولي واحدونه**

**د کویټ دینار**

کویټي دینار د نړۍ تر ټولو لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. دا مهال د یو کویټي دینار بیه ۳.۳۴ امریکایي ډالره ده. که څه هم کویټ د نړۍ کوچنی هیواد دی، خو د دې هیواد د نفتو بډایه طبیعي زېرمې او صادرات د دې لامل شوي دي چې دغه هیواد د پولي واحد ارزښت په نړیواله کچه لومړي ځای کې وي.

**د بحرین دینار**

د بحرین دینار د نړۍ دویم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی.په نړیوال بازار کې د بحرین د یو دینار بیه ۲.۶۶ امریکایي ډالره ده. بحرین د نفتو ستر صادروونکی هیواد دی او دا لامل شوی دی چې د پولي واحد ارزښت یې په نړیواله کچه دویم ځای خپل کړي.

**د عمان ریال**

دا د نړۍ دریم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. د یو عماني ریال بیه په

»

نړیوال بازار کې ۲.۶۲ امریکایي ډالرده. د دې هیواد غوره جغرافیایي ځای ( موقعیت) عمان په ستر اقتصادي هیواد بدل کړی دی او پولي واحد یې لوړ ارزښت لري.

**د اُردُن دینار**

د اردن پولي واحد د نړۍ څلورم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. په نړیوال بازار کې د یو اردني دینار بیه ۱.۴۱ امریکایي ډالر ده. که څه هم اردن د نړۍ بډایه هیواد نه دی او د خپلو ګاونډیو په شان طبعي منابع هم نه لري، خو بیا هم دا هیواد توانېدلی چې د نړۍ په کچه څلورم نمبر لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد ولري.

**انګلیسي پونډ**

سټرلینګ پونډ د نړۍ پنځم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. دا مهال په نړیوال بازار کې یو انګلیسي پونډ ۱.۲۷ امریکایي ډالره کېږي. اوسمهال پونډ د نړۍ په زیات شمېر هیوادونو کې د راکړې او ورکړې لپاره کارول کېږي.

**د جبل الطارق پونډ**

دا د جبل الطارق پولي واحد دی. دا مهال یې په نړیواله کچه د شپږم لوړ ارزښت لرونکي پولي واحد ځای خپل کړی دی. په نړیوال بازار کې د یو جبل الطارق پونډ بیه ۱.۲۳ امریکایي ډالر کېږي.

**د کایمن جزیرو ډالر**

کایمن ټاپوګان د نړۍ اووم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد لري. د کایمن د یو ډالر بیه دا مهال په نړیوال بازار کې ۱.۲۲ امریکایي ډالره ده. په دغو جزیزو کې د نړۍ د زیات شمېر بانکونو مرکزونه جوړ شوي دي چې له همدې ځایه پولي او مالي خدمتونه وړاندې کوي چې له بانکي سیستم ملاتړ او د مالیاتو لوړوالی یې د پولي واحد د لوړوالي بنسټیز عوامل دي.

**یورو**

یورو نږدې د ټولې اروپا د رسمي پولي واحد په توګه منل شوی پولي واحد دی، چې ډېر ژر یې لوړ ارزښت تر لاسه کړ. یورو دا مهال د ټولې نړۍ په کچه اتم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. په نړیوال مارکیټ کې د یو یورو بیه ۱.۱۶ امریکایي ډالر کېږي.

**سویسي فرانک**

سویسي فرانک د نړۍ نهم لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. د دې هېواد د پیسو د ارزښت د لوړوالي ستر لامل په دې هیواد کې د غوره بانکي نظام ټینګښت او بهرنیو هیوادونو ته د معلوماتي ټکنالوژۍ د وسایلو صادرات ښودل شوي دي. اوس مهال د یو سویسي فرانک بیه ۱.۰۶ امریکایي ډالره ده.

**امریکایي ډالر**

که څه هم په خلکو کې عام باور دا دی چې امریکایي ډالر د نړۍ تر ټولو لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی، خو په اصل کې داسې نه ده. دا مهال امریکایي ډالر د نړۍ لسم نمبر لوړ ارزښت لرونکی پولي واحد دی.

د یادونې وړ ده چې په ترتیب سره وینزویلا، ایران، ویتنام، اندونیزیا، ازبکستان، سیرالیون، ګوانا، لیو- کیپ، پاراګوای او کمبودیا هغه هېوادونه دي چې په نړیواله کچه تر ټولو ټیټ ارزښت لرونکي پولي واحدونه لري.

ح.ن

---


سرچینې:

Highest Currency in The World 2022 | Top 10 Highest Currency in the World 2022 | Highest Currency 2022

https://ugwire.com/top-10-strongest-currencies-world/

TOP 10 - The Lowest World Currencies in 2022/ December 2, 2021/ written by: Ogla Protska

https://fxssi.com/top-10-of-the-weakest-world-currencies-in-current-year

# استحکام مالی چیست و چگونه به وجود می آید؟

هدف اساسی تمام سیستم های اقتصادی عبارت از دست یابی به رشد و توسعهٔ اقتصادی است. روی همین علت اقتصاد دانان از سال های قبل بدینسو همواره در صدد واضح ساختن تفاوت کشور های مختلف جهان از منظر رشد و توسعهٔ اقتصادی بوده و تحقیق نمودند.آنها در این مورد به عوامل مختلف دست یافته اند، در ابتدأ آنها فکر می کردند که شاید سرمایه گذاری، سرمایهٔ انسانی، نرخ پس انداز، عوامل رشد تولید و غیره اساس و پایهٔ استحکام مالی را تشکیل می دهند.

بر اساس تحقیق بیشتر محققین در این عرصه آنها دریافتند که علاوه بر عوامل فوق عوامل دیگر غیر اقتصادی نیز در تفاوت توسعهٔ کشورها رول اساسی دارند، آنها دریافتند که عوامل چون ثبات سیاسی، حاکمیت نظم و قانون، میزان فساد دستگاه های اداری، امنیت، اختلافات فرهنگی، قومی، نژادی و غیره عبارت از عواملی اند که در رشد اقتصادی کشور ها نقش اساسی دارند.

اقتصاد دانان در جریان تحقیقات شان دریافتند که امنیت در عرصه های مختلف اقتصادی اهمیت بسزایی داشته و سنگ بنای اقتصاد را تشکیل می دهد،شالوده تمام تمدن ها و پیشرفت های اقتصادی و

»



فرهنگی بر اساس آن استوار بوده است.

درشرایط کنونی، یکی از عوامل مهم و اثر گزار بر فعالیت های اقتصادی، نظیر سرمایه گذاری های داخلی و خارجی، صرف نظر از حاصل سود سرمایه گذاری، امنیت جانی و مالی سرمایه گذار می باشد. استقرار امنیت در جامعه، متاثر از عوامل مختلف می باشد، امنیت در یک کشور ابعاد مختلف دارد که شامل بخش های اقتصادی، فرهنگی، حقوقی، زیست باهمی، سرمایه گذاریو غیره میشود. از طرف دیگر سطوح مختلف امنیت گرچه با هم مختلف است، اماشباهت های زیادی با هم دارند.

امنیت یک امر برخاستهٔ اجتماعی بوده و مفهوم ذهنی دارد و قدامت آن به قدامت زندگی بشریت بر می گردد. مفهوم امنیت بعد از جنگ جهانی دوم به مجامع اکادمیک راه پیداکرد کهبه گونهٔ مختلف تعریف شده و ساده ترین تعریف آن عبارت از رها بودن انسان از خطر ترس یاهم به معنی نبود تهدید تعریف شده است.

ثبات مالی یک پدیدهٔ جدید بوده که پس از وقوع بحران مالی در کشور های مانند، امریکا، روسیه، ترکیه، آسیای جنوب شرقی و غیره در دهه ی اخیر به میزان وسیع در ادبیات اقتصادی مطرح گردیده است. تدابیر پیشگیرانه برای مقابله با ریسک های سیستماتیک در بحران های مالی و ایجاد استحکام در موسسات مالی برای کاهش مصارف بحران های مالی عناصر اصلی بستهٔ سیاست ثبات مالی یا استحکام مالی می باشد.

در این عرصه، بانکها کانون اصلی استحکام یا ثبات مالی را تشکیل می دهند. پیش بینی های واقعی بحران های در بیلانس بانکها عبارت از متداول ترین راهی است که در شرایط کنونی جهت ارزیابی میزان استحکام و سلامت بخش مالی و آسیب پذیری و بحران های اقتصادی مورد توجه قرار می گیرد.

ثبات مالی به وضعی گفته می شود که بحران های مالی سیستماتیک ثبت اقتصاد کلان یک کشور را تهدید نکند. بحران مالی عبارت از یک تهدید نا گهانی و سریع در همه شاخص های مالی مانند اوراق بها دار، نرخ بهرهٔ کوتاه مدت، سهام مستغلات و سقوط موسسات مالی اطلاق می گردد. در مقابل رونق مالی عبارت از هجوم پول بسوی دارایی های حقیقی یا مالی گفته می شود که بر اساس انتظار استمرار در افزایش قیمت دارایی ها تعلق می گیرد.

اما بحران مالی، براساس خروج ناگهانی دارایی ها از بخش های مختلف مالیبسوی پول شناسایی می گردد، که حالت اول عبارت از ثبات و حالت دوم عبارت از حالت زوال می باشد.

اینکه نارامی های مالی به بحران مالی می انجامد به عوامل مختلف بستگی دارد، در چنین حالت شکنندگی رشد اعتبارات و تسهیلات اعطای بانکها، سرعت معکوس شدن انتظارات، فروریختن اعتماد عمومی به دلیل اتفاقاتی نظیر شکست فاحش یک موسسهٔ مالی و بالاخره اطمینان جامعه در شرایط اضطراری موسسات مالی بحران زده توسط وام دهندهٔ نهایی، همه در شکل گیری بحران نقش دارند. •

عبدالحفیظ شاهین

---

**منابع:**


۱-**پیش نیاز** استحکام مالی مناسب - روزنامه دنیای اقتصاد /**تاریخ نشر: ٦/ ۵/۱۳۹۸** https://donya-e-eqtesad.com

۲- تلاش برای بهبود و استحکام نظام بانکی کشور | د افغانستان بانک/ تاریخ نشر: ۴ / ۷/۱۴۰۰ https://www.dab.gov.af ›

۳- نقش بانکها در خروج ارز از کشور و جهش قیمت - خبرگزاری مهر/ تاریخ نشر: ۴ / ۲ / ۱۴۰۰ ttps://www.mehrnews.com › news



# د سوداګريزو چارو لپاره د مالي سواد اړتيا

په ننني نړۍ کې ټول هغه بازارونه چې په هغې کې سوداګرۍ تر سره کیږي د غوره ارزښت لرونکي دي او هغه کسان چې په دې بازارونو کې پانګې اچونې تر سره کوي او د خپلو شتمنيو د ډېروالي او پرمختګ لپاره کار کوي، اړتيا ده چې د مالي سواد کچه يې لوړه وي او پر بنسټ يې ښه کاروبار وکړای شي.

په پرمختللو هېوادونو کې خلکو ته له بېلابېلو لارو د مالي سواد په اړه زده کړې ورکول کيږي او دا زده کړې د ټولو لپاره د خورا زيات ارزښت لرونکې دي او هر څوک لېوالتيا لري چې د مالي سواد کچه يې لوړه او په خپل ژوند کې ښې مالي پرېکړې وکړي.

په مالي برخه کې د نا سمو پرېکړو کول د شخص پر ژوند، دوستانو او حتی د کاروبار پر شريکانو ناوړه اغېز کوي او همدارنګه کولای شي په ټولنه کې د مالي هوساينې په برخه کې ستونزې رامنځته کړي. همدا دليل دی چې په پرمختللو هېوادونو کې له بېلابېلو لارو هڅه کيږي چې خلکو ته مالي سواد ورکړل شي.

کومې څېړنې چې په دې برخه کې تر سره شوې دي د دې ښکارندويي کوي چې هغه کسان چې د مالي سواد کچه يې لوړه ده نسبت هغو کسانو ته چې مالي سواد نه لري شتمن دي، برياليۍ سوداګرۍ لري او ښه ژوند لري. همدارنګه هغه کسان چې د مالي سواد کچه يې لوړه ده د خپل راتلونکي لپاره پلانونه لري او هڅه کوي چې تر تقاعد وروسته او د خپل ښه راتلونکي لپاره پانګې اچونې تر سره کړي. د څېړنو له مخې دا کسان د مالي او اقتصادي مسائلو په اړه لوړ تحليل لري او د راتلونکې اقتصادي اوضاع په اړه هر څه له وړاندې ارزوي او د همدې ارزونو پر مټ

»

راتلونکې چارې مدیریت کوي.

**د پانګې اچونې لپاره د مالي سواد ګټې**

په ښوونیزو بنسټونو کې له لومړیو ورځو باید ماشومان له مالي مفهومونو لکه سپما، مالي بودجه بندي، لګښتونه او له پانګې اچونې سره آشنا شي. که په ښوونیزو بنسټونو کې په دې اړه تدریس موجود نه وي، اړینه ده چې له نورو لارو د یادو موضوعګانو په اړه معلومات د خپلې کورنۍ د مالي سواد د لوړوالي لپاره را ټول شي او له هغې ګټه واخیستل شي.

مالي سواد ولې د هر شخص لپاره ډېر ارزښت لري؟

د مالي سواد شتون د دې لامل کېږي چې شخص خپلې مالي چارې په ښه ډول مدیریت کړي یا هم په روښانه ډول ویلای شو چې د مالي سواد لرل د دې لامل کېدای شي چې شخص د سپما، پانګې اچونې او نورو اړوند مالي موضوعګانو په اړه غوره پرېکړې تر سره کړي.

هغه کسان چې مالي سواد ولري د خپل روښانه راتلونکي لپاره لاندې چارې تر سره کوي:

**د بودجې جوړولو تګلارې کاروي**

د بودجې له جوړولو موخه د لنډ یا اوږد مهال لپاره د عوایدو ځانګړي کول دي. یعنې دا چې د عوایدو د تر لاسه کولو لپاره د بودجې ترتیب یو اړین امر دی چې دا امر د مالي سواد له شتون پرته نیمګړی دی. په کورني ژوند کې هم اړینه ده چې د عوایدو د لګښت په اړه تګلاره موجوده وي. که چېرته په کورنیو کې د لګښتونو په اړه ښکاره تګلاره موجوده وي په دې سره کولای شو چې اړین او غیر اړین لګښتونه سره بېل او د هغو د مدیریت په اړه پرېکړې تر سره کړو.

**په میاشتني ډول سپما کول**

اړینه ده چې هر شخص له خپلو میاشتنیو عوایدو یوه برخه سپما کړي. د مالي مدیریت په برخه کې پر سپما ډېر ټینګار شوی دی او اړینه ده چې هر شخص د خپلو میاشتنیو عوایدو څخه یوه برخه سپما کړي. هغه کسان چې د خپل راتلونکي په اړه فکر کوي د راتلونکي اقتصادي وضعیت په اړه لوړ تحلیل لري او سپما جدي ګڼي.

**د پور اخیستلو په اړه څېړنه کول**

پور د مالي سواد له مهمو فکتورونو شمېرل کېږي. هغه کسان چې مالي سواد ولري دوی کولای شي د پور په علتونو پوه شي او مخنیوی یې وکړي. پور هغه لګول شوې پیسې دي چې د شخص له خپلې شتمنۍ څخه نه وي بلکې له یو بل شخص یا بنسټ څخه یې د اړتیا پر مهال تر لاسه کړې وي. لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه چې د مالي سواد شتون د دې لامل کېږي چې د پور علتونه ښکاره کړي یعنې د دې ښکارندویي کوي چې پور د اړینو توکو د لګښت لپاره کارول شوی او که د تجملاتي څیزونو لپاره، نو پر همدې بنسټ ویلای شو هغه کسان چې د مالي سواد لرونکي وي دوی په ډېره آسانۍ سره دا درک کولای شي چې د کومو مواردو لپاره پور واخلي او د کومو لپاره یې وانخلي.

**پانګه اچونه کول**

هغه کسان چې د خپلې راتلونکې مالي اوضاع په اړه ښکاره لیدلوری لري دوی د خپلې پانګې یوه برخه د پیسو د ارزښت ساتنې او پانګې د زیاتوالي لپاره په کار اچوي او په بېلابېلو بازارونو کې پرې پانګه اچونه تر سره کوي. مالي سواد په دې ځای کې له شخص سره مرسته کوي چې په بازارونو کې په ښه ډول پانګه اچونه تر سره کړي او پانګه یې د وخت په تېرېدو سره زیاته شي.●

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د خپرونو څانګې مدیر


سرچینې:

1- سواد مالی چیست؟ چه تاثیری بر رفاه اقتصادی دارد؟(parmisit.com)

2– Financial literacy as a key factor for an individual's social andeconomic well-being

3- https://www.shs-conferences.org/articles/shsconf/pdf/2016/06/shsconf_rptss2016_01037.pdf

4- Why Financial Literacy Is So Important/By Kristina Zucchi/ Updated September 30, 2021

5– https://www.investopedia.com/articles/investing/100615/why-financial-literacy-and-education-so-important.asp




## حسنه پور

هغه ترون دی چې پور ورکوونکی (بانک) یوه ځانګړې کچه شتمني/پیسې پېرودونکي ته د یوه نېک کار تر سره کولو په موخه بې له کوم سوده په پور ورکوي. پور اخیستونکی (پېرودونکی) مکلف دی چې د ټاکل شویو شرایطو پر بنسټ د ترون په پای کې د بانک پور په عین اندازه بېرته بانک ته ورکړي. دغه پورونه عموماً هغو وګړو ته ورکول کېږي چې پیسو ته جدي اړتیا لري- د بېلګې په توګه؛ د درملنې، زده کړو او داسې نورو اړتیاوو لپاره.

## قرض الحسنه

قرض الحسنه عبارت از قراردادی است که در آن قرض دهنده (بانک) مقدار معینی از دارایی / پول را برای یک هدف خوب بدون هیچ سودی به مشتری قرض می دهد. وام گیرنده (خریدار) مکلف است عین مبلغ قرض بانکی را در پایان قرارداد با رعایت شرایط تعیین شده به بانک بازپرداخت کند. این قرض ها معمولاً به افرادی داده می شود که به شدت به پول نیاز دارند - به عنوان مثال برای درمان ، تحصیل و غیره...



# توجه به زراعت و زمینه سازی برای افزایش صادرات محصولات زراعتی، به رشد اقتصادی کمک می کند

زراعت یکی از سکتور های مهم اقتصادی کشور به حساب می آید که نمیتوان نقش برازنده آنرا در تقویت اقتصاد خانواده ها و اقتصاد کشور نادیده گرفت. میکانیزه سازی فعالیتهای این سکتور باعث وفور محصولات گردیده و در صورتیکه برای بازاریابی آن خارج از کشور تلاش صورت گیرد، منتج به افزایش صادرات محصولات زراعتی شده و به تبع آن زمینه را برای ورود اسعار به کشور فراهم می سازد.

خوشبختانه افغانستان بعضی اقلام زراعتی مثل زعفران، جلغوزه، انار، انگور و نباتات طبی دارد که از شهرت جهانی برخوردار بوده و بازار های خوبی جهانی دارد. امارت اسلامی افغانستان اخیراً تلاش هایی موثری را برای تامین روابط اقتصادی و تجاری با کشور های دور و نزدیک به خرج داده تا زمینه رشد صادرات کشور را فراهم نمایند. با افزایش صادرات، زمینه برای ورود اسعار به کشور فراهم میگردد که تاثیر خوبی روی برنامه ریزی های اقتصادی و ثبات ارزش افغانی در مقابل سایر ارزها خواهد داشت.



# دیبورا لاینز نماینده ویژه سازمان ملل متحد برای افغانستان در کنفرانس یک روزه اقتصاد افغانستان:

**”ما در حال گفتگو با دونران جهانی برای کمک به مردم افغانستان هستیم و از جهت های مختلف تلاش صورت گرفته است که تا حد زیاد نتایج مثبت در پی داشته است. ما متعهد هستیم که بانک مرکزی افغانستان را برای رسیدگی به مشکلات بخش بانکی کمک کنیم.“**

د افغانستان بانک از حسن نیت سازمان ملل قدردانی نموده و خواستار همکاری های بیشتر ایشان در عرصه های مختلف بانکداری، تجارت و اقتصاد می باشد.



**فعال شدن ماشین های اتومات صرافی (ATM) در سکتور بانکی از ازدحام مشتریان جلوگیری نموده و روند برداشت پول از حسابات شانرا سهل می سازد.**

---

**په بانکي نظام کې د صرافۍ د خپل کاره ماشینونو (ATM) فعالېدل د پېرودونکو د ګڼې ګونې مخه نیسي او د هغوی له حسابونو څخه د پیسو ویستلو په بهیر آسانتیاوې رامنځته کوي.**



## د پولي خدمتونو او صرافيو د شرکتونو جواز ورکولو په تړاو د افغانستان بانک اعلاميه!

د افغانستان اسلامي امارت کابينې د ۱۶ ګڼې او ۰۶/۱۰/۱۴۰۰ نېټې مصوبې او د افغانستان بانک عامل پلاوي د ۱۰۶ ګڼې او ۲۸/۱۰/۱۴۰۰ نېټې تصويب پر بنسټ د پولي خدمتونو او صرافيو شرکتي جوازونه د مقرراتي شرايطو او يو لړ نورو شرايطو پر مټ کوم چې په دې ورو ستيو کې د افغانستان بانک لخوا وضع شوي، صادرېږي.

همدا راز ټول انفرادي صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي کولای شي د لاندې لارښوود پر بنسټ د پولي خدمتونو او صرافيو د فعاليت د شرکتي جواز د تر لاسه کولو په موخه د افغانستان بانک د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي:

۱– هغه صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي چې د جواز د تر لاسه کولو لپاره يې مخکې غوښتنليکونه وړاندې کړي وي، اړ دي چې د دې خبر تيا د خپرېدو له نېټې څخه د ۱۴۰۰ کال د کب تر ۱۰ نېټې پورې د جواز د تر لاسه کولو لپاره د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي.

۲– جواز نه درلودونکي صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي اړ دي چې د دې خبر تيا د خپرېدو له نېټې څخه د ۱۴۰۰ کال د کب تر ۱۰ نېټې پورې د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه او خپل جوازونه تر لاسه کړي.

۳– هغه انفرادي صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي چې د جواز د اعتبار نېټه يې پای ته رسېدلې وي، اړ دي چې د دې خبر تيا د خپرېدو له نېټې څخه د ۱۴۰۰ کال د کب تر ۱۸ نېټې پورې د شرکتي جوازونو د تر لاسه کولو په موخه د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي.

له همدې امله، د موضوع په تړاو د پولي خدمتونو ټولو وړاندې کوونکو او صرافانو ته خبر ورکول کېږي چې د پورته مودو په پام کې نيولو سره د جواز د تر لاسه کولو په موخه د افغانستان بانک د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي. همدا ډول له ټاکل شوې مودې وروسته د بې جوازه صرافانو او د پولي خدمتونو له وړاندې کوونکو سره قانوني چلند کېږي.







# بیایید با استفاده از افغانی در معاملات
# روزمره اقتصادی به ثبات آن بیافزاییم!

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۷۴ جدی ۱۴۰۰



په ورځنیو راکړو ورکړو کې د افغانۍ کارول ملي ارزښتونو ته
زمونږ ژمنتیا او رسالت څرګندوي.